(سریزه: داود جنبش)

السلام علیکم ګرانو اوریدونکو،

د راستنېدونکو افغان مهاجرینو د ستونزو، ننګونو او امکاناتو په اړه له ولسمشر محمد اشرف غني سره د پوډکاستونو بلې خپرونې ته هرکله راشئ، خوش آمدید، خوش کیلیب سیز.

استاده موضوع خو وار په وار ژوربېږي او په عین حال کې ډېره په زړه پورې کېږي، تاسې ته هم هرکلی وایم، نن به په یوه بل اړخ باندې وغږېږو.

**ډاکټر محمد اشرف غني:** السلام‌علیکم جناب جنبش صاحب، زما احترامات، نیکې هیلې او سلامونه ټولو خویندو او ورونو ته؛

**داود جنبش:** کور مو ودان، بیا هم تاسې ته مننې وایم چې وخت مومئ او په دغو مهمو بحثونو کې ګډون کوئ. زه به یې تېرې خپرونې کې له یوې یادونې نه راپیل کړم. هلته تاسو یوه اشاره وکړه او ما هم ژمنه وکړه چې په دې باندې به غږېږو چې اروپایي اتحادیې له تاسو سره د څو کلن مالي تمویل خبره کړې وه، نهایې شوي به هم وي، په دې کې د مهاجرینو خپله برخه وه، هلته یې د جزییاتو سپړلو ته ځای نه وو، راته ووایاست چې د مهاجرینو لپاره مخصوصاً هغوی چې راستنېږي، په دغو طرحو کې څومره ځای وو او څومره مالي امکانات وو؟

**ډاکټر محمد اشرف غني:** بسم الله الرحمن الرحیم

ډېره مننه، لومړی زه غواړم یو ټوپیر ته اشاره وکړم، بعضي اوقات زموږ طرحې د هغه چلند سره چې [اروپایي اتحادیه] یې د ترکیې [له] دولت سره لري، هغه سره پرتله کېږي او دا[سې] نه وه. له ترکیې سره مسئله دا ده چې څنګه، د سوریې نه وتلي مهاجرین او همدارنګه له نورو هیوادونو [چې کوم مهاجرین]ځې او ترکیې کې تم کېږي، [دا] اروپا ته ونه رسېږي. دا یوه ګذري او د امکاناتو معامله ده چې څنګه بوج په ترکیې باندې رانه شي او ددې لپاره چې اروپا نه غواړي دا خلک [د کډوالو په توګه] راشي، څنګه امکانات ورته برابر کړي [چې مخه یې ونیول شي]. هیله [یې] دا ده چې د دې [کډوالو] ملک خاصتاً سوریه [ببرته] یوه ثبات ته ورسېږي چې [کډوال] یې ببرته [ور] وګرځي. زموږ خبرو او اړیکو د اروپا اتحادیې سره هم مثبتي جنبي درلودلې [او] هم منفي. منفي جنبه څه وه؟ د اروپا متوسطه طبقه او جګه طبقه لوی‌ترینه منبع د استعمال د نشه یې توکو ده او د دوی عادت دی چې دا بد مرض او وبا د هیرویینو [یې] زموږ په وطن کې جاري ساتلې ده. ډېره برخه د پیسو له دې نه [ترلاسه کېږي] چې دا حرکت د افغانستان له جنوب نه [پیل کېږي] او بالاخره اتحادیه

اروپا ته رسېږي، [مقدار یې] په حدود د پنځوس میلیارده ډالر په کال کې تخمین شوی دی. د شمال له خوا نه چې روسیې ته او آسیای مرکزي هیوادونو او چین او نورو ته ځي، دېرش میلیارده ډالر ده. دغه کې یو هوسا افغانستان یوه ډېره اساسي خبره ده، ځکه د افیومو د بدلولو او د هیروپینو مخه نیول، په افغانستان کې آبادي غواړي، دا یې مثبته برخه ده. بله برخه چې مشترکه ده، چاپېریال دی. چاپېریال سرحدونه نه پېژني او د اروپا اتحادیه د چاپېریال په برخه کې مخکښه ټولنه ده، دلته مو غوښتل چې په اساسي توګه مخکې لاړ شو . درېیمه برخه دا ده چې اروپا او آسیا سره بېل نه دي، آسیا او اروپا په حقیقت کې یو براعظم دی. دا ۱۴۰ کاله کېږي چې د ریل پټلۍ موضوع د اروپا له خوا مطرح شوې وه چې برلین به څنګه ممبۍ سره وصل شي، له بده مرغه زموږ طالع په دې دوران کې نه شوه؛ نو دا ټول چې سره راټول کړئ اصلي برخه [دا ده] د مهاجرینو موضوع چې څنګه افغانستان هوسا شي، ثبات ولري، دوامدرې، پایداري او باعزتې سولې ته ورسېږي، چې یو [داسې] مملکت وي چې هلته د اروپا مرستي یو علت د ودې اوسي او د افغانستان خلک هوسا کړي. په دې چوکاټ کې دوه برخې وې: هغه مهاجرین چې حقوق یې تثبیت شوي وو او د اتحادیه د اروپا په محکمو کې یې حقوق ګټلي وو، د دوی حقوق باید خوندې پاتې وای او دا ټول موږ ګټلي وو، اما هغه [کسان] چې شرایط یې په واضح توګه دې ته [چمتو] وو چې باید وګرځي، دوی ته خاص اقدامات وو، اما اصلي خبره همدا وه چې ټول افغانستان چې ٪۹۰ مرستې ته اړتیا درلوده او ودې ته یې اړتیا درلوده د یوه هوسا ژوند خاوند شي.

**داود جنبش:** د ارقامو اندازه یې معلومه ده چې مثلاً اروپا د کډوالو لپاره مشخص څومره مرسته کولای شوه؟

**ډاکټر محمد اشرف غني:** دا په موږ پورې تړلې ده، ځکه چې که کډوال په یو توګه وګورئ چې خاص فرد په فرد راځي، دوی ته خاص مصارف وو، اما په عمومي توګه زموږ لویه موضوع دا وه چې څنګه وده راوړئ، ما په تېر پودکاست کې هم تاسې ته وویلي چې نهه فیصده په کال کې موږ باید وده وکړو او تاسې په اول کې لږ څه شک باندې ورته کتل اما هیله ده هغه توضیحات چې ما درکړل ذهن یې دې ته تیار کړی وي چې دا امکان پذیره وه. دغه زموږ لویه خبره وه او دا زموږ په برنامو باندې تړلې ده، ځکه چې دیارلس اعشاریه دوه میلیارده ډالره په عمومي توګه له ټولې نړۍ نه موږ ژمنه واخیسته څلور کلو لپاره تر ۲۰۲۴ کال پورې، په هر کال کې به دری اعشاریه دوه میلیارده ډالر راتلل. د هغه په څنګ کې [نورې داسې] پیسې دي چې مشخصو هیوادونو ته ټاکل شوي نه دي، اما هغه هیوادونه چې طرحه لري، کولای شي چې دا پیسې خپلې کړي. [د دې تر]څنګ د اتحادیه د اروپا لویه پانګونه ده، چې کیدای شول چې د شنې زیربنا او شنې انرژۍ او شنه صنعت په تولید کې یو بل سره زښته ډېره همکاري وکړي، یعنې حدود نشته دلته، [البته] دا په دې [پورې] تړلې ده چې څومره نوښت په لاس کې لرئ، کوم ظرفیت په لاس کې لرئ او خاصتاً څه رقم په شفافیت او موثریت یې ترسره رسوئ، ددې امکانات بې‌حده ډېر دي.

**داود جنبش:** یعنی تمرکز اصلي بر این میبود که به جای اینکه «خیرات ماهی بدهند، راه ماهیگیری را یاد بدهند»، یعنی افغانستان بتواند به پای خود ایستاد شود و به درجه ای از آسایش برسد که مهاجرین برگشته خود را بتواند از نظر مالی تامین کند؟

**داکتر محمد اشرف غني:** مطلق؛ در اینجا باز هم چون همی اصطلاح عام شده «ماهی و ماهیگیری»، مگر هر دوی این محدود است. ماهیگیری هنوز هم از زندگی ابتدایی حکایت میکند، من میخواهم یک افغانستانی باشد که بالآخره بتواند به کشورهای دیگر کمک کند، نه [اینکه] ساحه دید ما به این محدود بماند که ما یک زندگی بخور و نمیر داشته باشیم، چون اصطلاح ماهیگیری باز هم به این تعلق دارد که آیا در آب ماهی است؟ و یا ماهی را با بمب میگیرید و اساس را خراب میکنید؟ اما ایستاد شدن به پای خود در شرایط بین‌المللی ضرورت همکاری را میکند، چون معنای این انزوا نیست، معنای این همکاری است و شیوهٔ اصلی این است که در آینده سرش صحبت های زیادتر خواهیم کرد، افغانستان امکانات نهایت زیاد دارد که متأسفانه سرمایه پنهان است. انکشاف این سرمایه باید به یک هدف بدل شود که یک افغانستانی که زندگی آبرومند برای اکثریت مطلق افغانها ایجاد کرده میتواند، به چه شیوه مدیریت شود.

**داود جنبش:** تشکر، شما کوتاه اسمی از شیوهٔ همکاری های اتحادیه اروپا با ترکیه بردید، این بهانه ای شد برای من که همان طوریکه در برنامه قبلی وعده داده بودم یک مکث کوتاه هم بر اوضاع مهاجرین ما در ایران و در ترکیه [داشته باشیم]. البته هر دو مورد فرق دارد، ترکیه معمولاً به عنوان ترانزیت استفاده میشود اما ایران کشور میزبان بوده برای دهه ها، سرنوشت این مهاجرین ما باوجودیکه دهه ها زندگی کردند آنجا در ایران، حالا در یک حالت ابهام استند، باوجودیکه کسی زیاد خبر نمیشود، سروصدا ندارد ولی اخراج ها ادامه دارد، فکر میکنید که اوضاع بهتر خواهد شد یا به سوی ابهام بیشتر خواهد رفت؟

**داکتر محمد اشرف غني:** در دوران وبای کرونا، من میخواهم از همکاری ملت و دولت ایران ابراز تشکر کنم، ایران بعد از یک ماه که سرحد را بسته کرده بود، سرحد را باز کرد و خاصتاً ما مشکور آسیای مرکزي استیم که در دوران وبای کرونا سرحدات را باز نگاه کرده بود و این موجب شد که در قیمت های مواد غذایی تغییر به وجود نیاید، هم از احتکار جلوگیری شد و هم از قحطی که بعضی مردم و بعضی قوت های دیگر میخواستند. در ایران دو نوع مهاجر داریم: یک مهاجر اقتصادی است، که این ها اکثراً به حیث فرد و اکثراً مردها استند و جوانان استند که میروند و زیاد ترین سهم اینها در بخش سکتور ساختمانی است. تا حدود ۴٪ اقتصاد ایران به بالای شانه های بازوهای توانای این افغان ها استوار بود. افراد دیگری استند که به حیث خانواده ها چندین نسل در آنجا بودند و مراکز تمرکز این ها در ولایات عمده ایران معلوم است، شرایطی که در ایران فعلاً است مربوط به خود ایران نیست تنها، چون تحریم اقتصادی که سر ایران تحمیل شده، اقتصاد ایران را بسیار سخت صدمه زده. پول را ببینید، شرایط کار را ببینید؛ از این جهت امروز فضای کار در ایران به سقوط مواجه است، یک بر سه بخش ایرانی ها براساس گزارش هایی که در روزنامه های خود اینها نشر میشود، میخواهند

از کشور برآیند. در این حالت باز هم، چیزیکه من تنها سر روزنامه های ایرانی در این اواخر اتکا میکنم، یک حس ستیزه با مهاجرین به صورت عموم و مهاجرین افغان به صورت خاص بوجود آمده و شرایط در اروپا به مراتب شدیدتر است. وزیر داخله انگلستان که از کابینه اخراج شد یک نمونه این است و شما شاهد استید که با چه رقم الفاظ صحبت میکنند. [همچنان] نوع اسلام ستیزی که در بعضی کشورهای اروپا بوجود آمده جز این ضدیت با مهاجرین است، در این حالت ما باید آمادگی داشته باشیم. موضوع اصلي چیست؟ آیا میخواهیم که این موضوع عودت مهاجرین به یک برنامۀ منسجم و قابل پیشبینی با محدودیت زمانی و یک طرح منظم مبدل شود و یا اینکه خودجوش باشد؟ اگر خودجوش باشد و عکس‌العملی باشد نتایج این یک رقم است، اگر این به یک برنامه منسجم و مدون بدل میشود این قابل مدیریت می شود و قابل پیشبینی می شود، خطرات به همه کمتر میشود و این به ارقام، اسناد، اولویت بندی ها ضرورت دارد که مدیریتش به صورت اساسی صورت بگیرد و باز سوال منابع مطرح می شود که آن یک بحث است که بدون بحث مشروعیت داخلی، منطقوی و بین المللی انجام داده شده نمی تواند.

**داود جنبش:** یعنی میخواهید بگویید که صرف نظر از اینکه سرنوشت مهاجرین ما در ایران چه میشود با سرنوشت شبیه پاکستان مواجه میشوند یا خیر، ملت افغان باید آماده باشد و به یک اجماع برسد که اینها را بپذیرد دوباره.

**داکتر محمد اشرف غني:** مطلق؛ چون برای چند سال، هم با پاکستان، هم با ایران ما چارچوب همکاری های وسط مدت و دراز مدت را مطرح کرده بودیم و در این مذاکرات موضوع عودت با عزت و قانونی مهاجرین ما یک از اولویت های ما بود. تهداب مذاکرات گذاشته شده، حالا باید شکل برنامه ریزی اش صورت گیرد. دلیلی که این واقعات رخ میدهد، اینست که یک ابهام بوجود آمده که آینده افغانستان به کدام طرف میرود و در حالتی که ابهام وجود داشته باشد عوض اینکه با برنامه رفتار کنید با حرکات احساساتی و آنی دچار می شوید که نتایجش عکس‌العملی می شود و این به یک دایره خبیثه بدل می شود عوض اینکه به یک دایره نجیبه بدل شود؛ اما امکان بدل کردن این به یک دایره نجیبه باید یکی از اولویت های ملی ما باشد.

**داود جنبش:** د کډوالو موضوع مهمه ده، لویه هم ده او اوس لومړیتوبونو ته هم راغلې ده، ددې ترځنګ یو شی چې ډېر پرې ځوک نه غږېږي او تقریباً له پامه غورځېدلې ده، دا ده چې ایران او پاکستان دواړو کې د افغان کډوالو د مجموعي شمیر په اندازه موږ کورني بېځایه شوي هم لرو، دې ته هم باید پام وشي.

**ډاکتر محمد اشرف غني:** جنبش صاحب زه له تاسې د زړه له کومي مننه کوم چې دې ډېرې مهمې موضوع ته مو اشاره وکړه. زه غواړم یوه لحظه مکث وکړم، ځکه دا دردوونکې ده. پوهېږئ موږ دومره غمونه لیدلي دي او دومره وینې مو لیدلې دي چې اوس غم، درد او وینې ته بې تفاوته شوي یوو. د بې‌ځایه شویو ستونزه دومره لړزوونکې ده او دردوونکې ده چې حد او حدود نه لري. افغان ښاغلیو کې ژړا ډېره سخته ده او په آسانه نه ژاړي، ځکه له کوچنیتوبه موږ او تاسو کې دا

پیچکاري شوې ده چې باید خپل احساسات کنټرول کړو، که مرګ وي، که سیلاب وي او که بل [څه وي]؛ اما ما دا بې‌ځایه شوي وطنوال لیدلي دي چې یو ساعت یا دوه ساعته ځوانان او پاخه خلک او سپین‌ږیري په ژړا [وو]. دا ژوند د انساني ژوند نه وتلی دی او ټول ورته په کرکه ګوري او ماته دا زښته ډېره ضروري وه، یو دلیل یې چې ما په باعزته سولې باندې ټینګار کاوه او ورته ژمن وم دا و چې داخلي بې‌ځایه شوي باید بېرته ځای پرځای شي او د حقوقو څښتن شي، لکه چې مهاجرینو ته موږ د خپل لاس او د بدن یوې برخې په توګه ګورو همدغه رقم زموږ بېځایه شوې خویندې او ورونه او د دوی کوچنیان زموږ د وجود یوه برخه ده، لکه سترګې او لکه د وجود نور غړي. د همدې موضوع لپاره [مې] د غصب مسئله هم مطرح کړه. یو دلیل یې دا غصب دی چې دا خلک د غصب نتیجه دي. ځینو ځایونو کې ډېرو ظالمانو په ډېره وحشي توګه دوی له هر څه ویستلي دي. اوس یوه عمده برخه د اوبو د پروژو، ښاري پروژو او نورو پروژو [ده] چې بیا به هم ان شاءالله تعالی موږ او تاسو په تفصیل ورباندې راشو. دلیل یې دا دی چې دغه خلک باید یوه برخه د افغانستان [د] خپل ځان وګڼي، مصئون جایداد [باید] ولري، [دا] مصئونیت ولري چې افغانان دي، د حقوقو خاوندان دي او کولای شي خپلو نورو خویندو او ورونو سره په سرلوړۍ او په مساوات وغږېږي، نو دا موضوع ډېره مهمه ده او زه بیا هم مننه کوم چې تاسې ورته پوښتنه مطرح کړه.

**داود جنبش:** څوک که په کابل ښار کې لږ دا د قرغې خوا ته ولاړ شي، دهلمند نه را بې‌ځایه شوي به وګوري چې په څه کړاو کې، مخصوصاً د ژمي په واورو کې ژوند کوي. ما پخپله په سوځوونکي لمر کې هماغسې چې تاسې وویل د غصب له امله له شمال نه راتښتیدلې بې‌ځایه شوي ولیدل چې لښکرګاه ته نژدې په هلمند کې په یوه کمپ کې اچول شوي وو؛ دغه راز مې د هرات په مسلخ [کمپ] کې د وچکالۍ له امله را بې‌ځایه شوي کسان ولیدل چې له بادغیس، غور او دغو سیمو نه راغلي وو او هلته یې په ډېر بد حالت کې ژوند کاوه. زما پوښتنه داده چې یوه برخه د دوی کیدای شي سیمه‌ییز عوامل ولري، لکه: جګړې، غصبونه او نور؛ یوه بله برخه یې د انسان د لاس نه بهر ده، د چاپېریال په بدلانه پورې اړه لري چې چاپېریال د دوی په سیمو کې دومره خراب شوی دی چې هغه څه یې چې درلودل له لاسه یې ورکړي دي، یوازینۍ لاره ورته دا پاتې وه چې یو بل ځای ته ووځي، نو د دوی بېرته میشتول او خپلو سیمو ته لېږدول به دومره آسان نه وی، مخصوصاً چې اقلیمي بدلون افغانستان خورا ځپلی دی.

**ډاکټر محمد اشرف غني:** بالکل، جناب جنبش صاحب دا ځایونه ما ټول په سترګو لیدلي او دې ټولو خویندو او ورونو سره غږېدلی یم. په ژمي کې مې هم کتلي او په اوړې کې مې هم کتلي، [په همدې خاطر] مې له تاسې نه مننه وکړه، ځکه امنیتي شرایطو له بده مرغه موږ پرې نه ښودلو چې د دوی حق غوښتنو باندې اقدام وکړو. چاپېریال کې افغانستان له لسو هیوادونو نه دی چې ډېرو سختو ستونزو د چاپېریال سره مخامخ دی، اما له بلې مخې موږ هغه امکانات هم لرو چې په اساسې توګه د حل لاره کیدای شي. شمال د افغانستان ته وګورئ، شپږ میاشتې سیلابونه دي، شپږ میاشتې وچکالي ده او دې کې د بندونو جوړول په اوسنی پوهې باندې، اوسنی پوهې باندې مې تمرکز په دې ده چې اکثره بندونه او ویالي

چې په شلمه پیړۍ کې جوړ شوي دي د پنځوسو یا سلو کالو د چاپېريال شرایطو په نظر کې نیولو سره دي او نن چاپېريال ډېر سخت په بدلون کې ده خاصتاً مرکزي آسیا، غربي آسیا او جنوبي آسیا کې، که دا د افغانستان اوبه په وړې، منځنۍ او لوېې سطحې باندې [د] یوې اساسي برنامې [پر اساس] عملي شي، دغه ستونزه د مدیریت وړ گرځیدای شي، اما بیا هم دا انسجام غواړي، تهداب د دې موجود دی، اما باید د اوسنیو شرایطو په نظر کې نیولو سره داسې اقداماتو ته مخه کړو چې خلک واقعاً ځای پرځای شي، غیر له هغه نه دا ستونزه ورځ په ورځ ډېرېږي او دا د ناسور زخم دی.

**داود جنبش:** بحث محیط زیست بعداً خواهد آمد من امیدوار استم، ولی در همین قسمت چون مربوط میشود به مهاجرین و بیجا شده های داخلی، میخواهم از شما بپرسم که چند فیصد این مردم بیجا شده های داخلی بالاثر تغییر اقلیم خانه های خود را ترک کرده اند و چند فیصد این ناشي است از مسایل منطقه یی از جمله جنگ وغیره؟

**داکتر محمد اشرف غني:** تخمین ٦،٢ ملیون انسان بیجا شده داخلی است، [که] ۴ ملیون این به عوامل جنگ و بی ثباتی، غصب و غیره است، و ۲،۲ ملیون [اش] براساس عوامل محیط زیستی است. تنها سواحل آمو را ببینید یک غضب است! شغنان به طور مثال، یکی از زیباترین نقاط افغانستان است و در دوران داود خان، بی بی گل و من شرف این را داشتیم که یک هفته کامل بدون اینکه هیچ کسی را بشناسیم، با پای [پیاده] در این دره زیبا بگردیم. در آن وقت یک پرواز باختر بود. شش سال پیش که باز رفتم، تقریباً نیم دره را آب برده بود ؛ و در طول سواحل آمو ببینید یک مسئله اساسی است که تحکیم این یکی از عمده ترین موضوعاتی است که باید [بالایش کار] صورت بگیرد. از طرف دیگر نکته ای را که خدمت تان عرض کردم وقتیکه غصب جوی ها صورت گرفت، [حالا] به اندازه ساحه جوی محدود شده است، که آب به اندازه یک بر دو یا یک بر سه اندازه حرکت خود می آید و پایین آب متاثر شده است. نکته دیگر بدبختانه موضوع چاه های عمیق است، چاه های عمیق به یک فیشن بدل شد و بدون هیچ نوع تفکیک، البته نیت نیک بود و من نیت را در قسمت اول مورد سوال قرار نمیدهم، اما اگر حقوق آب را در دین مبین اسلام مطالعه کنید، یکي از بهترین نظام های حقوقي برای حد اقل ۱۲۰۰ سال که اسناد اش را من شخصاً مطالعه کرده ام، وجود دارد، به یک کاریز موجود در حدود دو  کیلومتر در اطراف آن کسی کاریز نو ایجاد کرده نمی توانیست.

**داود جنبش:** بخاطر اینکه آب دیگران را نگیرند؟

**داکتر محمد اشرف غني:** بلی، آب دیگران را نگیرند؛ و جوی هایی بود که پنج کیلومتر یا  ده کیلو متر از ساحه دیگران تیر می شد، قرن ها حفظ بود. جوی نزدیک بالاحصار یک مثال این است. تمام این نظام زیر پا گذاشته شده، چون آب دو رقم است: یک آب زیر زمینی، [که] محدود است، یکبار که کش میکنید آن آب خلاص می شود و این اُفت زمین را به بار می آورد. روز به روز چاه ها [عمیقتر میشوند]. یاد تان خواهد باشد، در دورانی که شما محصل پوهنتون کابل بودید، یک چاه در چند متری می برآمد، در حالیکه حالا چاه ها به ۵۰ متر و ۱۰۰ متر میرسد. تمام شهرهای عمده

افغانستان مشکل آب دارند و ما باز هم برای  شش شهر افغانستان طرح های اساسي ایجاد کرده بودیم که چطور آب این ها تامین شود. بناً ضرورت واضح است که موضوع محیط زیست را به حیث یک مسئله سرسری مورد نظر نگیریم، بلکه اقدامات اساسی کنیم، چون تمدن بسیار درخشان سیستان قدیم ما. سیستان باستان ما را که رستم پایتخت اش نیمروز بود و سرسبزی این در شهنامه در هر فصلش انعکاس پیدا میکند به خشک ترین چیز بدل شد، از خاطریکه اقلیم مدیریت نشد، و حال ضرورت واضح است که خاصتاً از تجربه ایران در قسمت مدیریت آب که نتایج بسیار وخیم داشته و مورد توجه است و ایران از خاطر این تصمیم گرفت که تولیدات زراعتی خود را در بعضی بخش ها کم کند و به واردات اتکا کند، تمام این موضوعات جمع میشود به فهم و باز برنامه سازی. [از] طرف دیگر این دلچسپ است که به تفصیل ان شاءالله در آینده ها صحبت خواهیم کرد و اینست که ما منابع محیط زیستی طبیعی هم در اختیار داریم، که فعلاً از پیش اش استفاده نمیشود که باد ما است، آب ما است، آفتاب ما است، انرژی تحت زمینی است و معادن ما است، که اگر به صورت اساسی با هم به یک نقشه منسجم بیاید، تغییرات منفی را از بین برده میتواند و جنگلات است که باید احیا شود.

**داود جنبش:** جالبي موضوع‌ګانې دي، زه یادداشتونه اخلم، په دې باندې به وروسته غږېږو خو تر هغو پورې چې د کورنیو بېځایه شویو موضوع پورې اړه لري او د کډوالو؛ غواړم مشخصه پوښتنه وکړم چې تاسې وویل چې مثلاً شمال کې شپږ میاشتې وچکالي وي شپږ میاشتې سیلابونه راځي، که اوبه سمې مدیریت شي دواړه تعادل پیدا کولای شي، هغه د سیلابونو اوبه وساتل شي او بیا په کروندو باندې ولګول شي، یا د آمو سیند غاړو ته مو اشاره وکړه چې هغه باید تحکیم شي، خو دا داسې آسانې پروژې نه دي، میلیاردونو ډالرو ته ښایي اړتیا ولري، نو که داسې وي دا بې‌ځایه شوي شاید په دې نژدې راتلونکو وختونو کې بېرته د ستنېدلو امکان ونه مومي، څکه دغومره پیسي اوس نشته؟

**ډاکټر محمد اشرف غني:** [کله چې] څوک [د] میلیاردونو [په اړه] غږېږي، زما له عاجزانه نظره دا یوه لویه اشتباه ده، څکه خبره دا ده چې تخمین څوک کوي؟ او طریقه د اجرا څوک ټاکي؟ که تخمین  ملګري ملتونه کوي، تخمین یې د اعتماد وړ نه دی، څکه [کومه] فیصدي چې دوی ځان ته اخلي او د اداري مصارفو لپاره یې اخلي، له هغه فیصدۍ [سره چې په یوه] ملک کې لګېږي یو لوی توپیر [لري]، نو [مهمه] خبره [دا] ده چې مدیریت یې څنګه کېږي؟ زه یو مثال درکوم، د دارالامان ماڼۍ موږ په حدود د  نهه میلیونو ډالرو بیا ودانه کړه، د دفاع وزارت ماڼۍ د  دوه سوه څلویښت میلیونو ډالرو نه ډېرتر وربانديې لګېدلي دي، څکه هغه د قراردادیانو له خوا شوي دي، په قراردادیانو باندې او هغه بیا په  پنځه لاسه نورو قراردادیانو باندې ورکړل شوي دي. دلته عملي شیوې شته او زما لوی ثبوت غیر له دې نه چې هغه شیان چې موږ د ملي شرکت او له [نورو] لارو وکړل، د ډاکټر ناکامورا اقدامات تاسې خپله په خپلو سترګو لیدلي، نن د کونړ سیند، لیونی سیند نه دی، د کونړ سیند د ژوند لارې برابرې کړي، صحراګانې یې شنې کړي دي. افغانان د دې پرځای چې کورونه خوشي کړي [لکه چې] د وچکالۍ [په] دوران کې یې خوشي کړي وو او ټول پېښور ته [تللي] وو، نن هغوی راځي

او هلته ژوند کوي. عاجل اقدامات او عملي اقدامات [باید] له نورو اقداماتو بیل شي، اما دا باید په یوه سلسله بدله شي. خبره دا ده، ځکه مې د ماهي او د ماهیگیري [خبره وکړه]، د منسجمو پیسو جوړولو لاره باید برابره کړئ او په عین حال کې خپل د مهارتونو د ټینگولو لپاره [باید کار وشي] کوم شی چې یو بین المللي قراردادي فی کیلومتر پنځه سوه زره ډالره د سړک [رغونه] کولای شي، موږ یې په اتیا زره ډالره کولای شوو، دا په دې [پوره] تړلې ده چې څومره خپل اعتماد ټینگوئ. یوه برخه یې چې زښته ډېره مهمه ده او باید ورباندې دقت وشي او هلته هم موږ [ته] پیسې معیار نه دی، [بلکې] موثریت معیار ده، هغه نقشې دي. [یعنې] چې د ساختمان ډېزاین په اوسني وضعیت کې څنگه کېږي؟ مخصوصاً د چاپېریال په نظر کې نیولو سره؛ نو په میلیون هاوو ډالرو باندې-که واقعاً ملي یووالی موجود وي او وحدت وي- د میلیاردونو ډالرو کارونه کولای شئ. دا د اعتماد د فضا [خبره] ده، [که] یو وار [په] اعتماد [سره] راشئ چې دغه کار کولای شوو، بیا نور لوی کارونه ورسره کولای شئ، [دا] یو د بل ضد نه دي.

**داود جنبش:** شما اشاره ای به احیای مجدد قصر دارالامان کردید، موافق خواهید بود که از شرکت انکشاف ملی نام ببریم که آنها نقش اساسی داشتند که حال مصروف ساختن کانال قوشتیپه است؟

**داکتر محمد اشرف غني:** مطلق، اول مالک همه چیز خداوند جل شأنه است اما دوم ملت افغانستان است، هر کسی که یک سنگ تهداب میگذارد عمارت به او تعلق ندارد، در تمام افغانستان یک جای را پیدا نخواهید کرد که به نام من نامگذاری شده باشد، چون این خلاف عقاید و اصول من است، هر کاری که ما میکنیم و هر نهادی را که ما ایجاد میکنیم از خاطر خیر ملت است و سر پروژۀ قوشتیپه من ماه ها کار کردم و تصمیم سیاسي واضح گرفتم سر این که حقوق حقۀ افغانها در استفاده از آب های زیر زمینی ما و آب های روی زمین ما و آب هایی را که در آن حقوق بین المللي داریم، باید از پیش اش استفاده کنیم.

**داود جنبش:** ددې پودکاست وروستیو شېبو ته نژدې شوي یوو، استاد غوښتل مې یوه موضوع چې رانه هیره نشي چې موږ کېږوال یادوو، بېځایه شوی یادوو، مثلاً نورې ستونزې یادوو خو یو اساسي جوړونکی عنصر چې ټولنه پر هغې دریدلې ده په هغې باندې هم دلته تمرکز وکړو، چې هغه کورنۍ دي او مخصوصاً د میرمنو ونډه ده په دې کې او په عین حال کې کله چې مشکل راځي هغه بار دی چې دوی یې لېږدوي پخپلو اوږو باندې، اوس چې یو ډول محدودیت د دوی په کار او د دوی په زده کړو باندې راغلی دی، دغو ټولو ستونزو ته په پام سره د میرمنو دغه بار او د کورنیو دغه بار څومره دروند شوی یا څومره درندېدلی شي نور؟

**ډاکټر محمد اشرف غني:** د اسلام صدر ته وگورئ، شتمن ترین فرد مځکې له دې نه چې زموږ د بشریت پیشوا حضرت محمد (ص) ته وحې راشي بي بي خدیجه (رض) وه، ددې میرمنې تقوا او شتمنې په ټوله عربې نړۍ کې او هغه وخت کې شام او د روم امپراطوري د ساسانې امپراطوری برخي وې، نوم درلود. بې بې عایشې ته وگورئ، لوی ترینه محدثه

[وه]، د صحیح بخاري او صحیح مسلم، څو فیصده حدیثونه له بي بي عایشې نه نقل قول دي؟ د هغه په اساس باندې چې په هغه سلسله باندې دربدلي دي، یو ضرور شی ده چې عفت چې د اسلام یوه اساسي برخه ده، دلوځ مخ او د قید او بست نه تفکیک وشي.

آیا ټوله زمونږ ټولنه بې عفته ټولنه وه!؟ نازو آنا یا زرغونه آنا یا نورې برجسته ښځې د افغانستان بې عفته وې!؟ [که نه] دا تور دی؟ د ترکیې ولس چې نن په ډېر قوت [د] غزې [په ملاتړ او] د هغوی حقوقو [لپاره] دربدلي دي، آیا دا بې عفته دي!!؟؟

پاکستان ته څه وایې؟ قطر ته څه وایې؟ چې اکثریت خلک چې شاګردانې او استادانې چې د قطر په پوهنتون کې دي میرمنې دي، ضرور ده چې [دې ته] متوجه شوو. اساسي واحد د ټولنې کورنۍ ده او کورنۍ کې پوهېږئ سخت تصامیم څوک نیسي؟ [کله] چې ډوډې کمه وي، میرمنې دې چې فیصله کوي چې اول هغو ښاغلو ته چې د باندې اخته دي او کار کوي ډوډۍ ورکړي، دویم خپلو زامنو ته ډوډۍ ورکوي، پس له هغې نه خپلو لوڼو ته ډوډۍ ورکوي، آخره مړۍ د ډوډې خپله خوري. که د دوی مدیریت نه وي، تاسې فکر کوئ چې څو کورنۍ به په پښو ودرېږي؟ او د دوی عقایدو ته وګورئ، یو اقلیت به وي چې بل [ډول] نظریات ولري، اما مطلق اکثریت د افغانستان ډېر ټینګ پخپل عفت باندې، پخپل عزت باندې او په عین حال کې خپلو حقوقو باندې دریدلي دي او په دې [کې] چې میرمنې خپلې بیلې شوراګانې ولري، هیڅ ستونزه نشته. ملي تړون کې ما ټولو میرمنو ته د خپلو شوراګانو حق ورکړ او دوی په ډېر قوت باندې [فعالیت وکړ]. ډېر ستر مثال یې د میدان وردګ ولایت کې دی چې یوې میرمنې په رادیو کې واورېدل چې بربښنا له اوبو نه جوړېدای شي او ټول ښاغلي یې د کلي نه لري وو ایران او پاکستان کې وو، دا میرمنې سره راټولې شوې او ټول شیان دوی سره ترتیب کړل تر څو چې برق یې ځان ته جوړ کړ. دا ضرور ده که با عزته لوڼې او زامن غواړئ، باید میندې با عزته وي او ورسره باید چلند باعزته وشي، دا یو بوج ده چې مونږ پخپله خپله پښه په تومانچه ولو! نو ضرور ده چې میرمنو ته توجه وشي. له بلې خوا نه نن څومره کونډې میرمنې دي چې ټول بار د کورنۍ په دوی باندې دی او که دوی کار ونه کړي تاسې پوهېږئ د دوی لوڼې به څنګه سرنوشت باندې اخته شي؟ یا د دوی واړه زامن به څنګه سرنوشت باندې اخته شي؟

**داود جنبش:** استاده زما پوښتنه هم همدا وه، ما د مهاجرینو یوه ویډیو کتله، یوه میرمن وه ویلي: یوه زه یم چې راستنه شوي یم، په تورخم کې یې ورسره خبري کولي، یوه مې یوه لور ده چې په پښه باندې ګوډه ده او د هغې خبره ده وایې ورکړې مې هم نه ده، اوس زه نه پوهېږم [څه وکړم]، نه په آسمان کې ستوری لرم نه په ځمکه کې سیوری! دغسې به ډېرې میرمنې وي، وایم ددغه حالت درندوالی به مخصوصاً د دوی په اوږو باندې خورا زیات وي؟

**ډاکټر محمد اشرف غني:** بالکل، ځکه په سلهاوو زره کورنۍ دي چې مشره یې یوه میرمن ده، د مثال په توګه د نساجۍ په برخه کې، دا ډېره برخه د دوی په اوږو ده او د دوی کار او د دوی ژوند لپاره برابرول دا یو داغ ده او باید دغه ته یوه واضح توجه وشي او په سمه توګه شرایط برابر شي. که څوک منع کوئ نو دومره میړانه ولرئ چې شرایط د ژوند ورته برابر کړئ، آیا چا ته خدای جل‌شانه دا اختیار ورکړی چې تدریجي مرګ په نورو باندې تحمیل کړي؟ ژوند منو یا تدریجي مرګ؟ نن آیا خندا شته؟ آیا موسکا شته؟ آیا ژوندانه ته امید شته؟ دغه میرمنه چې راغلې له خپلې ګوډې لورې سره، دغه زموږ واقعي وضعیت ده او دا د ټولو وحدت غواړي، دا وخت د تقسیم نه ده، دا وخت د ټولیدلو دی چې په واقعې توګه ددې اوښکې پاکې کړئ، د وطن په غېږ کې یې ونیسئ، چې پوه شي چې سیوری هم شته او عزت هم شته او راتلونکی هم شته.

**داود جنبش:** بسیار تشکر داکتر محمد اشرف غني، تقریباً به جمع بندي مسایل رسیدیم در پودکاست آینده به صورت کُل راجع به مشکل و راه حل هایی که کشور و ملت ما در مجموع میتوانند با هم شکل بدهند و اجرا کنند، صحبت خواهیم کردیم.

**داکتر محمد اشرف غني:** باز هم از جناب شما و تمام هموطنان ما، شنونده های عزیز؛ تشکر میکنم.

یشه سن افغانستان

ژوندی دې وي افغانستان

زنده باد افغانستان